ليکوال:  سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۰۸/۰۱/۰۵م

# زمونږ پلا رنی هېواد مورنی ژبه نه لري ؟

## افغان ــ په ژبه غوڅ يو ولس

د ۱۹٤۳ م کال اساسي قانون دريمه ماده کي داسي راغلي دي : د افغانستان د ژبو له جملو څخه پښتو او دري رسمي ژبې دي
په ۳۵ مي مادې کي بيا لولو : دولت موظف دی چي د ملي ژبې پښتو د انکشاف او تقويې لپاره موثر پروګرام جوړ او تطبيق کړي.
په داسي حال کي چي پښتانه د ۲۵۷ کالو راهيسي د افغانستان په معاصر تاريخ او د نړی په تاريخ کي حکومت جوړونکی ولس پيژندل شوی دی ، د افغانستان شرعي او قانوني وثيقه ليک د دوی په سرښندنه او مېړانه رامنځ ته شوی دی . په دغه موده کي ډېر لږ څه په سترګو کيږي چي حکومتونو زمونږ مورنی ژبه پاللي وي او د ودې ، پرمختګ او دغه راز د افغان کلتوري ودې راوينولو لپاره په دغه لرغوني پښتني ټولنه کي ډېر لږ څه ليدلی شو ، په داسي حال کي چي په نورو ولسونو کي د هغه ولس د ژبې او کلتور لپاره بنسټيز کارونه تر سره شوي او کيږي.
هر پښتون ته د پښتو ژبې او کلتور د ودې د مخنيوي لاملونه جوت دي . نن افغانان پښتانه د ولسواکی په تنکيو پړاونو کي د خپلي خوږې مورنی ژبې د نه پاملرني له کبله د ستر جبلنجونو سره مخامخ دي . دوی اوس پوه دي چي په دغه برخه کي زړورو هڅو ته اړتيا ده . ژبه يوه وسيله ده چي انسان وکړی شي خپل فکرونه ، احساسات او اراده پرې څرګند او بيان کړي . د انسانانو تر منځه د پوهاوی خورا مهم توکی دی . ځکه مونږ اړ يو له ژبې څخه کار واخلو . کله چي مونږ پر ژبه خبرې کوو ، داسي ښکاري لکه چي مونږ پر خپل ځان خبرې کوو . دا ډېره ګرانه ده چي سړی د ځان په اړه سمي او دقيقي خبرې وکړي . داسي هم نه ده چي د کوم شي په اړه سړی خبرې نشي کولی نو بايد غلی پاتې شي . هر څوک په يوه او يا څو ژبو خبرې کوي او هر څوک په يوه يا څو ژبو پوهيږي . دا به ډېره ګرانه خبره وي چي څوک منع او يا تور پرې ولګول شي چي ولي هغه په خپله نيمګړې مورنی ژبه خبرې کوي ، د پالنې ، ودې ، سمسورتيا اوښتون لپاره يې لارې لټوي او خندونه هواروي..
مورنی ژبه د هر چا يوه برخه ده . سربېره پر دې له احساساتو، ټولنيزې کچې ، سياسي مبارزې او انفرادي ودې سره تړاو لري . ژبه د کلتور او تاريخ توليد او زېږنده ده ، چي د يوې ټولنې د ودې هنداره په کي ليدل کيږي . ژبه د پرديو کلتورونو کونجي پيژندل شوي او يا د پرديو کلتورونو لپاره يوه کنجي ده . ژبه د هويت ورپيژندلو لپاره يو خورا مهم فکتور دی او د خپلوی او يووالي احساسات رامېنځ ته کوي . همدا وجه ده چي خپله ژبه لرل د هر انسان يو منل شوې بنسټيز ه ربنته يا حق دی . بشري حقوقو ته تل ګواښونه متوجه دي . همدا اوس په نړی کي اټکل پر ۶۰۰۰ ژبو خبرې کيږي . له دې شمېر نه ۵۲ فيصده ژبې تر ۱۰۰۰ ، ۲۸ فيصده تر ۱۰۰۰۰ نه لږ او د ۱۰ فيصده نه ډېر تر ۱۰۰ پورې ويونکي لري . د اوسنيو حالاتو په رڼا کي چي ورته وکتل شي نو ۹۰ فيصده ټولي ژبې د ۱۰۰ کلونو په مېنځ کي به له مېنځه ولاړې شي .په بله خوا کي به د نړی ۱۱ لويې ژبې چي د نړی نيمايي وګړو مورنی ژبه ده پاتې شي ، لکه چينايي ، انګريزي ، هندي ، هسپانوي ، فرانسوي او عربی ژبې .
. [ The Cambrige Encyclopedia of Languages ۱۹۹۷ ]
ځيني د ژبو له مېنځه تللو ته په ښه سترګه ګوري او وايي چي يوه واحده نړيواله ژبه به د تېرونتو او غلط فهميو او کرکيچونو مخه ونيسي. په حقيقت کي د ژبو له مېنځه تلل د بشريت بېوزلي او د کلتور وژنه ده. ځکه ژبه زمونږ استعداد دی چي فکر وکړو او د نړی نه يو عکس واخلو او زمونږ کلتور سره ډېری نږدې اړيکي لري .
له بله پلوه څو اړخيزه کېدنه د ژوندي پاتې کېدلو په ستراتيژۍ او په وده يا Evolution کي لوی بری دی او ژبه د ټولنيزو چارو په سر ته رسولو کي خورا مهم توکی دی . او په ژوندي پاتې کېدلو کي لوی رول لوبوي . په نه ليکل کېدونکي ژبه کي پوهه يو بل ته په خوله ورکول کيږي او ژبه هرې پوهنې پورې تړاو لري.

### ۱ ) ژبه او قانون

قانون مجبور دی چي د ولس له فکرونو څخه راووځي او له هغه څه نه خبرې وکړي چي هغه ځوان او بالغ لوستي سړي چي د نړی او ژوند تيتي لوړې پرې تېرې وي ، هغه ته د قانون په وېلو دا فکر او احساس وشي چي دغه قانون د ده له زړه څخه خبرې کوي . قانون او سياست د ټولنيز واک جوړولو په څنګ کي له يو بل څخه نه بېليدونکي دي


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً  به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

او د قانون ژبه د اوامرو تطبیقولو یوه ویسله ده. قانون د سیاست کولو او جوړولو تولید دی . ژبه د حقوقي معیارونو وړونکې ده. د یوه ولسواکه حقوقو حکومت، د قانون حکومت یا نظام ، د قانون ژبه او یو دیکتاتوري مستبد نظام سره توپیر لري . رښته یا حق او قانون یوازې د ژبې په مرسته رامېنځ ته کیږي ، ځکه پر رښته یا حق په ژبه فکر کیږي . ژبه د واک چلولو یو توکی کېدای شي چې واقعي ځواک او واک په کې ځرګند شي او د امر ورکوونکي حکومت ویښ ځواک په کې ځرګند شي. ځوک چې پر ژبه باندې واکمن وي هغه پر خلکو واکمن وي.

ولسواکي ناپېیلو او خپلواکو ډلیزو رسنیو ته اړتیا لري . د بیان آزادي او د آند خپلواکي جوړول د انسان له بنسټیزو حقوقو څخه شمارل کیږي . د همدغو بنسټیزو حقوقو پر بنسټ ولس کولی شي چې د حکومت مطبوعاتي سېستم یا پروپاګن چې له مقنني، قضاییه او اجراییه ځواکونو څخه وروسته د حکومت ځلورم ځواک ګڼل کیږي ، وڅاري او هم پر حکومت کنټرول وکړي. اداري ژبه د ټولو کړو وړو او اجراییوي حقوقي ماملو په مرکز کې واقع ده .

## ۲ ) ژبه او فلسفه

د ژبې او فلسفې تر مېنځه له ډېر پخوا څخه توپیر او کړکیچ شته . هره فلسفه پوښتنه کوي چې د موجودیت معنا څه ده ؟ د ژبې په اړه د فلسفې پوښتنه داسې وي چې د ژبې شته والی او موجودیت به څه معنا ولري ؟ او د ژبپوهنې یا Linguisticپوښتنه به د ژبې په څرنګوالي وي . په بل عبارت ژبپوهنه د ژبې د فلسفې تر لاس لاندې ده . نه چې غبرګون یې او فیلسوف هغه څوک دي چې له ټولو نه وروسته ریښتیا وایي ، چې د هغه شي په اړه له دې نه بل کم څوک نه پوهېدو او د دۀ خبره به د ریښتیا وروستی تمځای وي.

ژبه د انساني روح ټول قوت دی . ژبه په چوپتیا کې جوړیږي . بې له ژبې څخه انساني ویښتیا شونې نه ده . ژبه نه یوازې یوه وسیله ده بلکې د وجود یو اورګان دی . ژبه د فکر جوړولو اورګان یا غړی دی . حقیقت او ریښتیا ژبې نه بهر نه شو موندلی ، انسان یوازې پر ژبه انسان دی ، ژبه په خپله ټوله راڅرګنده شوې بڼه کې د انساني کلتور یوه ژوندۍ نښه ده .

## ۳) پښتانه او زمونږ افغانۍ مورنۍ ژبه

زمونږ پښتني ټولنه د نړۍ له زړو ټولنو څخه یوه ټولنه ده . د افغان پښتون پینځه زره کلن لرغونی تاریخ د نړۍ د تاریخ په زړه لیکل شوی دی . افغانستان د ټولو پښتنو افغانانو پلارنی هېواد دی . کابل د لرغوني لوی کندهار وروسته د ټولو پښتنو افغانانو سیاسي او کلتوري پلازمېنه ده.

خپلې مورنۍ ژبې ته په خپل پلارني هېواد کې پالنه ، وده ورکول هغه ته خپل نړېوال منلي شوي حقوق تر لاسه کول او په خپله مورنۍ ژبه زده کړه ، په دې نوي افغانستان او نړۍ کې ژبني توپیرونو ته لمن نه وهل دي ، بلکې کلتوري وده او ژبني توپیرونه ردول او له مېنځه وړل دي . دا یو حقیقت دی چې څرنګه یو حکومت یا نظام له خپلو وګړو سره خبرې کوي ، هماغسې چلند هم ورسره کوي . که مونږ خپل ځیني تېر حکومتي چارواکي او وېناوې یې یادې کړو نو وینو چې دا خبره ریښتیا ده . افغان ولس پر هغو ولسي استازو چې ځانونه د ولس ټېکداران ، ټاکل شوي استازي ، غړي او وکیلان بولي غږ کوي چې که دوی له ولس سره په خپله مورنۍ رسمي ژبې خبرې ونه کړي او د ولس رسمي ژبې ته پاملرنه ونه کړي ، دوی ته د ولسي جرګې د ټاکلو په لوبه کې سور کارت ورکول کیږي او له صحنې څخه به وځي . په ولسي جرګې او مشرانو جرګه کې باید چې د ولس په مورنۍ ژبه د ولس په راتلونکي برخلیک ، هیلو او د ولس په رښته حق خبرې وشي . کله چې حکومت ، مشرانو جرګه ، ولسي جرګې غړي او استازي د ولس بنسټیزو رښتو ته درناوی ونه کړي ، نو هغه استازي به دوی ته څنګه چوپړ وکړای شي ؟ او د خپل ربړېدلي په ژبه غو ځ ولس ډېرو نورو ملي ارزښتونو ته به هم پام نه کوي . افغان ولس به د ولسواکۍ په دې نوي پړاو کې خپله رایې په ټولټاکنو کې لکه وسله استعمالوي.

دا یو حقیقت دی چې د پردیو ژبه زده کول د خپلې ژبې زېرمې ورزیاتول دي . نن هر لوستي افغان په ډېره مینه له یوې نه څو پردۍ ژبې زده کړي دي . دوی اوس ډېر ښه پوهیږي چې د نړۍ نورو ولسونو له خپلې مورنۍ ژبې سره څنګه جلند کړی . زمونږ دا نوی ځوان نسل به پښتو ژبې سره داسې چلند کوي لکه د نړۍ د نورو ژبو ویښ ځلمیان .

تعریف : رسمي ژبه هغه ژبه ده چې د حکومت ټول ډاکومنټ یا اسناد په یوه ژبه وي او د هغه هېواد وګړي هم په دغه ژبه د حکومت له اورګانونو او ادارو سره خبرې او معامله وکړي . په افغانستان کې د دولت د مرکزي ادارو نژدې ټولې چارې په دري ژبه دي او دا په غوڅه توګه د ګران افغانستان له اساسي قانون څخه سرغړوانې دي چې د قانون چلونکي او جوړونکي لخوا تر سره کیږي.

که دغه بې انډولي چې پښتو ژبې سره شوې ، که د هېواد بلې ژبې سره شوی وای ، لیدلي به مو وای چې د دغې ژبې ویوونکي به د ملګرو ملتونو او د یونسکو دفترونو ته په جوپو جوپو روان وای او د ژبنیې توپیرونو ، کلتور او تاریخ وژنې، د بشري او انساني بنسټیزو حقوقو تر پښې لاندې کېدلو په اړه شکایتونه ، مظاهرې لاریونونه کول او ان


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د ګوندونو د کړنلارې او په سیاسي غونډو کې مهم ټکي به همداسي په ژبه واې . په لسګونو کلتوري ټولنو به د ژبې د ودې لپاره په کار پیل کړی واې . په کابل کې به هر ورځ د ښووني او روزني وزارت په وړاندې د زده کوونکو مظاهرې واې او هر چا چې د دغي ژبې دود خنډ لرې کړی واې ، نفرین به پرې وېل کید، چې ولې مونږ په خپله پلازمېنه کې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه نشو کولی ؟ او پښتنو به د دغه حق ننګه کولی.

لکه څنګه چې د افغانستان په شمال کې لږکیو په سیمیزه کچه خپل حق تر لاسه کړلو ، پښتو ژبه مونږ ته د افغانستان د لرغوني تاریخ ، کلتور او د پښتونولۍ ریښتینی عزت او غېرت کودکس Codex ، غمېزو ، ناورینو ، مېړانو ، ویاړنو د ملي یووالي ارزښتونه رازده کوي . پښتو نه یوازې په دغه نوي اساسي قانون کې بلکې د افغانستان د اساسي قانون په تاریخ کې زمونږ مورنۍ ژبه د هېواد د غوڅ اکثریت ملي او رسمي ژبه پېژندل شوې . په هم دغې نوي اساسي قانون کې د ملي ژبې د ټکي پر ځای ملي سرود په پښتو ژبه او د پښتو ژبې د ترمینولوجي پالنه او ساتنه یاده شوې ، ملي سرود په پښتو ، همدا ټکی په خپله په اساسي قانون کې پښتو ژبې ته د ملي ژبې حېثیت ورکوي او د هېواد د نورو ژبو په پرتله یو ځانګړتوب او خاص ځای ورته منل شوی دی . ځکه د دغه هېواد نوم په نړۍ کې دغې ژبې د وګړو په نوم یادیږي . ژبه زمونږ د بنسټیزو حقوقو یوه برخه ده . هر افغان پښتون چې دغه ربښته یا حق تر پښو لاندې کوي ، هغه زمونږ کلتور ، تاریخ ، هویت ، زمونږ ملي ویاړونه ، زمونږ پښتني ټولنه ، زمونږ زوړ افغاني احساس ، زمونږ دغه نوی اساسي قانون چې د لویې جرګې له خوا تصویب شوی ، تر پښو لاندې کوي . که سره یوه شوي وو او په یوه خوله وو نو دا ملي سرود په پښتو به په بل یا تعدیل د اساسي قانون په ملي ژبه واړول شي ، دا زمونږ یو حق دی ، دا په ټولو هېوادونو او ملتونو کې د مطلق اکثریت یو ساده کنل شوی حق دی او هېڅ ډول نااندریو ته په کې اړتیا نه لیدل کیږي.

پښتو ژبې ته د نه پاملرنې او وروسته پاتې والي په اړه ډېر ژړل ګټور نه دي . پښتو ژبه په همدا اوسني حالاتو کې زمونږ څخه په تېره بیا له فرهنګیانو روڼ اندیو ، ملي ، افغاني احساس او جرات لرونکو پښتنو مشرانو او ویښو پېغلو او ځوانانو څخه د ولسي او ټولنیزې ودې ، د کلتوري ودې ، د خوږو یتیمانو ژبې او د راتلونکو نسلونو د ژبې لپاره ، چې دوی خپل ځلانده تاریخ چې په وینو لیکلی شوی دی په پښتو ژبه ولولي ، د یو ویښوونکې نوې طرحې او ورودمهالو پلانونو جوړول غواړي.

مونږ په خوښه دري ژبه زده کړې ده . ځکه چې زمونږ د هېواد دوهمه رسمي ژبه ده . د خپلو ورونو نه دا تمه لرو چې دوی هم زمونږ پښتو ژبه زده کړي ځکه چې زمونږه ژبه هم د هېواد ملي او لومړۍ رسمي ژبه ده .حقیقت دا دی چې د دري ژبې ډېرو خوېندو او ورونو پښتو ژبه زده کړې ده او پښتو ژبې ته په درنه سترګه ګوري . ما ته په یو مجلس کې د لږکیو ډېر ګران ملګري چې مورنۍ ژبه یې په اساسي قانون کې رسمي نه ده په پېغور کې ووېل : مونږ خپله ملي ژبه پښتو ځکه نده زده کړې چې تاسو پښتنو مونږ سره په پښتو ژبه خبرې ندي کړي . دغه ورور ریښتیا ووېل ، دغه تریخ حقیقت ته مې پام نه وو ، باید ومنو چې دغه ریټ باید په افغاني ټولنه کې صرف مات کړی شي . که نه مونږ خپله پښتانه له خپلې ژبې سره تېری کوو او حق نه لرو چې په داسې ملي احساس او ارزښت تېری وکړو.

پښتو او دري ژبه سره خور او ورو ر دي . دغه دواړه ژبې ډېرې نژدې اړیکلې سره لري . پښتو ژبه په سیمه کې له هېڅ یوې ژبې څخه وروسته نه ده . په تاریخي لرغونتوب ، په ژبښود او د نفوسو په شمېر ، د خاورې وسعت چې له آمو سین نه نیولې ، هندوکش غرونو ، د خیبر درې نه تر اټک پورې یو واحد قام پروت دی . د سیمې ټولو آبادو مهمو قومي ژبنیو ګروپونو په مېنځ کې د شمار له مخې لومړنی قومي ګروپ دی.

پښتو او دري ژبې د هندو اروپایي یا جرمني له لویې کورنۍ څخه راوځي . د دغو دوو ژبو په اړه ډېر وړاندیزونه شوي.

زما وړاندیز د اساسي قانون پر بنسټ زمونږ د مورنۍ ژبې حقوقو د بېرته اعادې لپاره ، د ملي لوړو ګټو د ساتنې لپاره د ملي یووالي لپاره دا دی چې پښتو او دري دغه دوې رسمي ژبې باید تل په افغانستان کې په سوله کې سره ژوند وکړي . کوچنیان کرکه ، ژبني توپیرونه او تبعیض نه پېژني ، د راتلونکې پخلاینې نیالګي دي . دوی په زده کړې او بیا رغونې باندې ټینګ ولاړ دي . د دوی د ژوند موخه زده کړه ده . د دري او پښتو په اړه توپیرونه تر څو چې لویان یې ورزده نه کړي ، نه پېژني . نو په کابل او د کابل غوندې نورې سیمې لکه کندوز ، مزار، هرات او داسې نورې سیمې چې د نورو لږکیو څخه ډېر یا برابر کچه پښتانه اوسیږي باید چې ډېر زر زده کړه او لوست له لومړې ټولګې څخه تر پوهنتوني زده کړې پورې نیمایي په پښتو ژبه واړول شي . د ازموېنې پوښتنې په دواړو ژبې شي . پښتو او دري یو بل څخه نه بېلېدونکې لرغونی ګډ تاریخ لري . دغه ژبې سره نه بېلېدونکې دي . لکه چې افغان واحد ولس سره نه بېلېدونکی دی . څوک چې زما په شان خبرې کوي هغه زما غوندې دی . څوک چې زما په شان خبرې نه کوي هغه بل خپل دی . افغانان مجبور دي چې د ملي وحدت ، ملي پخلاینې او تل پاتې سولې په وجه یو بل


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

په ټولنه کې سره وزغمي . د ژبنیو توپیرونو مخه به ونیول‌ی شي او د ملي وحدت لپاره به یو بل لوی قدم پورته شي . په کابل کې پښتنو ته په پښتو ژبه ، دري ژبو ته په دري ژبه زده کړې غوره نه دي دا به زمونږ ټولنه نوره هم سره وویشي . دغه به ډېرې نورې ستونزې رامېنځ ته کړي.

له بنسټ څخه د خوشحال خان او رحمان بابا لېسې د آزادو قبایلو ځوانانو لپاره پرانیستلې شوې دي . د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت باید چې د آزادو قبایلو پېغلو لپاره د نجونو دوه نوې لېسې په کابل کې پرانیزي .

له هېواد نه بهر او دننه په سلګونو کلتوري فرهنګي ټولنې چې د پښتو ژبې مټې دي ، ولس راویښ کړي چې زړورتوب وکړي . پښتانه هټېوال او سوداګر چې تل نوي مالونه واردوي ، خپلو مالونو ته په پښتو ژبه کې نومونه او اعلانونه ورکړي ، هنرمندان پښتو ژبې ته نوره هم ښکلا ورکړي ، لیکوالان، خبریالان چې د ولس سترګې دي ، راډیو ټلویزیون ، پښتو وېبسایټونه ، ورځپاڼې، مجلې، پېغلې، ځوانان، ښوونکي، روښنفکره مشران د اغېز خاوندان ، هغه چې خپلې مورنۍ ژبې سره په خپل پلارني هېواد کې مینه لري ، په کار دي چې په دې اړه په یوه خوله شي . د پښتو ژبې د راتلونکې او ودې په هکله یوه ویښه، پروګرام شوې اوږودمهاله ګډه تګلاره غوره کړي . ترڅو چې د خپل هېواد افغاني کلتور پالنه او زهني بیا رغونې د ډېر ارزښت وړ یو ستر پوهنیز انقلاب رامنځه ته کړو او خپل د پښتو افغاني ادب او کلتور فرهنګي هستې په خپله مورنۍ ژبه وپېژنو چې بیا زمونږ ملي او افغاني ټولنیزو ارزښتونو ستې ونه نړیږي او د پښتو ادب، د افغاني کلتور دروازې نړېوالو ته په خپله مورنۍ ژبه خلاصې کړو.

افغان حکومت باید په خپل ښوونیز او روزنیز سیاست او د دغو دوو رسمي ژبو په انډول کې د قانون پر لیکه پام وکړي ا ود منلو وړ اغېزناک بدلون راولي . څرنګه چې په ټول نوي افغانستان کې بدلونونه راغلي دي ، د کابل پوهنتون او ښونځیو نومونه یواځې په پښتو نه وي بلکې لوست او زده کړه باید زمونږ په مورنۍ ژبه وي . په ستره محکمه، لویه څارنوالي، عدلیه وزارت، بهرنیو چارو وزارت، افغان سفارتونه، ګرځندوی څانګې، ملي او د خپواکۍ ورځې، د ناورین او د ویر ورځې او داسې نورو ادارو او حالاتو لپاره باید پروتوکول جوړ شي چې کله دولتي چارواکي په کومه ژبه ولس ته خبرې وړي . څکه ټول لوړ پوړي چارواکي په دواړو رسمي ژبو پوهیږي . زمونږ د لوستي ولس فیصدي اټکل ۱۵ فیصده ډېره شوې ده. دغه بدلون ژبني تبعیضونو ، توپیرونو ته لمن وهل نه دي او د احساساتو څخه کار اخستل نه دي دغه زمونږ بنسټیز حق دی. د بېلګې په توګه هغه پېغله یا ځوان چې د کندهار، ننګرهار ، خوست پوهنتونونه کابل ته او د کابل پوهنتون نه نوموړو پوهنتونونو ته بدلیږي ، دغه زده کوونکي به له څومره پرابلمونو سره مخامخ کیږي. چې د دوی په زده کړه او لیاقت به ناوړه اغېز ولري او ستونزې به ورته رامېنځ ته کړي. څکه دوی په خپل پلارني هېواد کې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه نشي کولی .

او هغه بل ورور په خپله رسمي ژبه په کابل او په خپله سیمه کې هېڅ پرابلم نه لري .تر هغو چې د ملي وحدت لپاره په پوهنیزه کچه کې بدلون رانشي او هر افغان په دواړو رسمي ژبو واک ونه لري ، په ملي ، یو موټي افغانستان کې د کرکې او ژبنیو توپیرونو مخه نه شي نیول کېدای ، او د هر افغان لپاره به د هېواد په هر ګوټ کې د زده کړې ، د کار اسانتیا نه وي برابره شوې ، د ملي یووالي بهیر به ډېر پڅ پر مخ درومي . کلتوري او فرهنګي نا انډولي به زمونږ په ژبه او ولس احساس کې ژور ټپونه پرېږدي . دا ټول د یو څو خاصو سیاستوالو له لاسه . غوڅ اکثریت لوستی او نا لوستی ولس به په دغه نوې پوهنه او نړۍ کې ځوریږي . که مونږ خپلې خوږې او درنې مورنۍ ژبې پښتو ته نن پاملرنه ونه کړو او په سېستماتیک ډول یې د ودې او چلند ، د اوښتون لاره پرته له احساساتو څخه ، بې له دې چې د نورو ژبو خنډ شو ، په عملي توګه یوه کړنلاره د ژبې په سیاست کې طرحه نه کړو له نورو ستونزو سره به مخامخ شو . په پښتو ژبه کې مونږ په میلیونونو نوو مسلکي او تخنیکي نورو توریو او نومونو ته اړتیا لرو . د کره جګې منلې پښتو لپاره د زړو لغاتونو راژوندي کول او د نوي لغات جوړونو په بهیر کې ویښ ولس باید چې په فعاله برخه واخلي او استعمال یې کړي . که داسې ونه کړو ، نړۍ چې په دغه چټکتیا نړېوالتوب روانه ده مونږ به بیا پاتې یو . د پښتو ژبې تاریخ به له هغو کسانو ډک وي ، چې څه یې کولی شول خو ویې نه کړل ! که څومره چې حکومتونه د ژبې ګوټنونه ورته کیږي هغمره زمونږ ځیني لوستي روڼ اندو ته هم ورته کیږي . یواځې مونږ مجبور یو خپلې درنې خوږې مورنۍ ژبې د نشر او سمون لپاره لیچې راونغاړو . په افغانستان کې داسې بل کوم ځواک نشته چې په قانوني توګه زمونږ مخه ونیسي . کله چې مونږ پر خپله ژبه واکمن شو ، وبه کړای شو چې د خپلو پولو نه هاخوا دروازې خلاصې کړو او خپل ګاونډیان وپېژنو . په دغه نړېوال کلي کې خپل کور ، اور او ګور نړېوالو ته وروپېژنو ، چې دلته لږ زمونږ اور بل دی . هر پښتون افغان باید له خپل ځانه وپوښتي چې زه خپلې ژبې ته څه کولی شم او ما د خپلې ژبې د زده کړې او ودې لپاره څه کړي ؟


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

٤) پښتو ژبه په انټرنټ او نړېوالو ټولنيزو رسنيو کې

که څه هم نړۍ د انټرنېټ پر مټ سره نږدې او نړېوال کلی ورته وېلی شو ، په ريښتيا سره کمپيوټر د نړۍ د ژبو مارکېټ ګرځېدلی دی او د هر هېواد لپاره د ژبو فستيوال ګرځېدلی دی . يو بل سره خبرې اترې ، چېټ کول ، بريښناليک په پردی ژبه ليکل ، د ژبې په زده کړې کې دا به يوه لويه بدمرغي او د افسوس خبره وي چې مونږ خپل منځي او نړېوال تماسونه ، راکړې ورکړې په تخنيک کې ورکړل شوي ټول د انګريزي ژبې په لمن کې راونغاړو ، ځکه کلتوري توپيرونه ، له ژبنيو توپيرونو نه جلا کېدونکي دي.

الف : يونيکود Unicode د ټولو ژبو د توريو او هر شان ته نخښو د خونديتوب يوه نړېواله پروژه ده . په Unicode کې د پښتو ټول توري خوندي شوي . په پښتو ژبه په ډېره لوړه کچه کمپيوټري پروګرامونه او د پښتو ژبې لپاره يوه معياري کليډرۍ Keyboard شته . مايکروسافټ Microsoft کمپنی په ويندوز اکس پي کی د پښتوژبې ليک دود اچولی دی ، چې د جګې پښتو ژبې لپاره د ليکبنو جوړولو اراده د پښتو ژبې لپاره په نړۍ کې لوی برې دی .د کمپيوټر په هره برخه کې په خپله مورنی ژبه ليکل او لوستل په ام اس ان او ګوګل کې په اسانه تر سره کولی شو . دا به زمونږ ستره تېروتنه وي چې زمونږ د مورنی ژبې لپاره نوي پروګرامونه چې په آزاد بازار کې جوړ شوي او کار ترې وانخلو.

ډېرې نړېوالې راډيوګانې په پښتو ژبه هره ورځ ډېرې نوې او په نړېوالو معيارونو برابرې ، په پوهنيزې ، ښځينيزې او شنننيزې خپروني لري چې په ښکلي خوږه وينوونکي ژبه خپريږي . همدا وجه ده چې د بي بي سي ، امريکا غږ ، ازادي راډيو ، الماني غږ او ځيني نورې راډيوګاني خلکو ته په زړه پورې دي چې له يوه خوا نه دوی تازه ، مؤسق او د لومړي لاس خبرونه په ناپيیلي توګه خپروي ، له بلې خوا د دوی د ژبې سياست دی چې ژبه هغسې خلکو ته وروواروي ښکه چې ولس يې تمه او تنده لري . د ډلييزو رسنيو ژبه تل جګه سوچه ، اداري ، حقوقي ژبه وي او حقوقي مسلکي ژبه د سياست او مطبوعاتو ژبه ده.

ب : افغاني دود ، کلتور او پښتو ژبه د هاليوډ په فلمونو کې هاليوډ د نړۍ تر ټولو لويه فلم جوړونکي کمپنی ده . دغې کمپنۍ څو سينمايي وتلي فلمونه د افغان ولس د نه ماتيدونکي کرکټر په اړه جوړ کړي دي او د دې لپاره چې افغاني هويت او ښېره ولري پښتو ژبې څخه هم په کې کار اخستل شوی دی . سړي ته د مبوند د جګړې مېړني رايادوي کله چې سړی د هاليوډ هغه د اتلانو او پادشاهانو په زانګورکې د پښتو ادب په پټه خزانه کې ، د افغانستان مذهب ، تصوفي ځواک په مرکز کې ډک شوي فلم ) په کندهار کې روسي سرو لښکرو ټانک ) په نامه په نړېواله کچه پېژندل شوي فلم وګوري . د دغه فلم اصلي ټکی د پښتونولی فلسفه ، نه ليکلي شوي حقوقي نورمونه ، قانون او د پښتنو دودونو خورا مهم اړخونه دي ، د هېواد د خپلواکی او د دين دښمن ته ننواتې له امله ښښه کيږي او پنا ورکولی کيږي . چې له ننی متمدني نړۍ نه هم يو قدم مخ ته دود دی ، مېلمه پالنه ، مېړانه ، عزت ، ريښتينولي او د ارادې ځواکمنتوب نه ماتيدونکي ، د نه تسليمکيدونکي افغاني هويت احساس او کرکټر ليدونکي ته ورښيي.

دوهم د رامبو ٦٣ مليونه ډالري فلم دی چې په پېښور او خوست کې د افغان ولس غميزې او ميړانې يو کوچنی افغان هلک ورښيي ، پښتو ژبه پکې کارول کيږي.

دريم د جېمز باند وتلی فلم په ننګرهار کې ډک شوی او د فلم اتل خپلي ملګرې ته په پښتو ژبه په ډېره مينه (ښايسته) وايي . هم داسې د هند باليوډ فلمونو د پښتنو او افغاني دود او کلتور پالنه ، ستاينه ، وياړنه او ان ګوتنيونه يې کړې.

٥) مرکه ، جرګه ، ملي جرګه ، لويه جرګه او نړېواله بيړنی جرګه

جرګه او مرکه سره له دې چې زمونږ د ولس ډېره زړه او لرغوني عنعنه ده ، خو دومره درنه او اغېزمنه عنعنه ده چې تر معاصر دورانه له يو لړ بدلونونو سره دوام کوي . افغان لويې جرګې لوی احمد شاه بابا د ټولو افغانانو پښتنو ټولواک پادشاه وټاکلو . لويه جرګه د افغانستان پخوانی او نوی اساسي قانون ، ولسواکي ، دافغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره منتخب ولسمشر ته لاره هواره کړه.

همدغو اوږدو او ولسواکو ملي تدبيرونو په يوويشتمه پيړۍ کې د المان د بون په ښار کې هم د زمونږ زوړ افغاني دود د لرغوني دموکراسی په نړېواله کچه يوه نوې بېلګه شوه . د نړۍ سياستپوهانو او مشرانو افغانانو ته د نړۍ په اوسني بهير يعني نړېوالتوب کې د خپلې پر مخ تللي متمدني ډموکراسی په ځای افغاني زوړ دود او کلتور ته لاره خلاصه کړه . ځکه دوی په پنځه زره کلنه ساده او پخه افغاني ولسواکی کې د خپلې په خوانی لومړنی ولسواکی رېښې وليدې . د لويديز دوه زره کلنه ولسواکي هم په لومړي سر کې زمونږ ولسواکۍ غوندې کمښتونه درلودل . د دغو وروستيو دوو لويو جرګو پرېکړو ته ملګري ملتونه، د امنيت شورا، اروپايي اتحاديې، د واشنګټن، لندن، پاريس ، برلن ، ماسکو ، استرليا ، کانادا، روم، مادريد، بيلجيم، رياض، ډهلي، تهران او داسې نورو ولسي جرګو يا پارلمانونو او ولسمشرانو انتظار درلود . د دغو هېوادونو مشرانو او ولسونو خپل ځانونه د لويې جرګې په نوم او مطلب وپوهول. د بېلګې په توګه په المان کې د ٢٠٠٢ کال په ټولو لېسو کې زده کوونکو د لويې جرګو د سياسي تاريخي

اهميت په اړه مظامين، مقالي او څېړني د ښووني په چوکاټ کي وکړي. چي په انټرنټ کي شته.
جرګو مرکو لکه زمونږ ولس او ټولنه وده ونه کړه، حکومتونو له جرګو څخه ګټه اخستله او له وخت سره سمه منظمه وده يي ورنکړه، ان دا چي لکه په دغو وروستيو لويو جرګو کي د لويي جرګي مشر د جرګي په اصولو نه پوهېدو. له جرګي نه يي د يوې ښځي د ويستلو امر وکړ. جرګي ته ملي د ازادو خبرو وخت ورنه کړو ، چي د جرګي سموالي او ولسواکي تر پوښتني لاندې شوه. جرګي ته خپله پښتون په پښتو ژبه وېنا ونه کړه ، چي په پښتو ژبه پوهېدو. دغه عمل جرګي ته سپکاوی ، ملي ارزښتونو ته، لوړې ګټي ته نه درنښت دی او د نورو ژبو توکم څنګه جرائت وکړي چي په پښتو ژبه د افغانانو جرګه او ولسی جرګه کي خبرې وکړي ؟

٦ ) پياوړې جګه کره پښتو

پښتو ژبه هم لکه د نړۍ نورې ژبې د ګړدود او ليکدود ستونزې لري . بايد زيار وباسو چي دغه ستونزې وپېژنو او دغه ستونزې کمي کړو . په دغه برخه کي د پښتو ژبې د ژبپوهانو بيرنی راتولېدنه اړينه بولم . دوی بايد په پښتو ژبه کي د وخت له اړتيا سره نوي ريفورمونه او سمونونه رامېنځ ته اوپلي کړي . ولس وپوهول شي . راوبېن کړی شي چي په دغو بدلونونو کي کوټلي ګامونه واخلي. پوښتنه دا ده چي مونږ خپله ژبه څنګه په يوه معياري پياوړې جګه پښتو ژبه ، ليکدود او کره ليکنه اړولی شو؟ .
د پښتو ژبي په سلګونو لهجو او د پښتنو په سلګونو ټبرونه د پښتو ژبي پانګه او زېرمي دي . ګړردود يا لهجه د يوې ژبي يو سيميز ډول دی. لهجي نه بايد چي ټپل وهل شي او ترېنه تېر شو. بلکي ترېنه يوه معياري پياوړې جګه ژبه او تر ډېره له پرديو تورو نه نګه ژبه جوړه شي. جګي ژبې په ډېرو ژبو کي له ګړدودونو څخه وده کړي.
ګړدودونه Dialect له معياري جګي ژبې څخه وساتل شي پالنه يي وشي او همداسي جګه معياري پښتو لهجو څخه وساتل شي . په بل عبارت هر پښتون افغان خپله سيميزه لهجه وساتي او ورسره جګه پښتو ژبه ، کره ليکنه زده کړي
.پياوړې جګه ژبه د پياوړيو جګ لوستيو پوهانو په کچه وي . دغه بهير په کورنی کي د ماشومانو په لومړني ښوونځي کي چي د دوی شخصيت جوړيږي پيل کيږي او په دويم ښوونځي کي چي په هغه کي ژبه او پوهه زده کيږي خپل اکاډمېک، پوهنيز پړاو ته رسيږي . ماشومان ژبه له لويانو څخه زده کوي له يو نسل نه بل نسل ته ورکول کيږي .لويان بايد د ماشومانو د ژبښود ، ليکدود او کره پښتو انتقال او امانت ورسپارلو کي بې غبرګونه پاتې نه شي ، بايد په کور کي ډېره پاملرنه ورته وکړي.
تر څو چي د پښتو ژبې له بېلابېلو ګړدودونو (( لهجو )) څخه يوه پياوړې جګه ، نګه پر پوهنيزو اصولو ولاړه او ټولو ته د منلو وړ، خوږه، پسته ژبه رامېنځ نه کړو. ژبه تل په اوښتون کي ده. د پښتو ژبې کره کېدل د يووشتمي پيړۍ او د نوي وخت غوښتنه ده. د ژبې او فکر تر منځه اړيکي. آيا کېدای شي چي بې له ژبې فکر وشي ؟ بې له ژبې څخه ناشوني ده چي فکر وشي . ايا مونږ فکر کوو کله چي مونږ ګړيږو. او يا دا چي مونږ په ورځني ژوند کي څنګه پښتو ژبه کاروو ؟ کله چي مونږ په کورني ژوند کي د ورځنی ژبې پر ځای په جګه کره ژبه خبرې وکړو . داسي معلوميږي چي ډېر جدي حالات دي يا يو بدلون تر سترګو کيږي . توپير دا دی چي يوه ژبه د لوستو روڼ اندو او بله ژبه د نالوستو ده . په معياري پياوړې جګه ژبه کي سرې د ورځنی ژبې نه په ډېر ښه پوهيږي . په همدی وجه جګه ژبه ځان ته ارزښت ورکوي په زړه پورې ښکلی غږ او آهنګ لري.
سړی د دې تمه ونه لري چي خلک نن سبا د خپلي ژبې عادات بدل کړي . دغه وده او بدلون په پېړيو کي رامېنځ ته کيږي . د بېلګي په توګه د لر او بر پښتنو په ګړ او ليک کي توپير ليدل کيږي ، دا ځکه چي ختيزو پښتنو پښتو ژبې ته له مونږ نه نوره هم لږ پاملرنه کړې. نړۍ د ګلوبلايزيشن نوي سېستم په لاره په ډېره چټکتيا مخ په بره روانه ده .
پښتو ژبه په مليونو نويو مسلکي پوهنيزو، تخنيکي، فلسفي، اقتصاد، ټولنيزو لغاتونو جوړونو ته اړتيا لري. ژبه زمونږ د پوهې افقي پولې جوړوي . ژبه د انساني روح ټول ځواک دی . ژبه په چوپتيا کي جوړيږي . پرته له پښتو ژبې څخه زمونږ افغاني هويت ملي پېژند او ويښتيا ناشوني ده. د همدغي ژبې په مرسته مونږ افغانان سولې ، پوهاوی، ملي يووالي او ولسواکي ته رسيږو .
که پښتو پياوړې وه ، د ګران افغانستان ادبی بهير پياوړی دی . دا زمونږ د ملي هويت ، د افغان ملي پېژند مهمه نښه ده . د افغانستان نورې ژبې هم زمونږ خوږې ژبې دي ، خو پښتو ژبه د غوڅ اکثريت د ژبې په توګه د ملي يووالي په نښه بايد بدله شي . د نا پوهی او بې تفاوتی لړی بايدپه ولسی جرګه اوحکومتی کابينه کی له منځه لاړه شي . نوی خپلواک افغانستان ، نويو ملي غوڅو تدبيرونو ته اړتيا لري.
خوشحال خان ختک:

تر مغلو پښتانه په توره ښه دي
که په پوهه پښتانه وي ځه هوښيار



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de